LU
TAHSIL ACADEMIC AND RESEARCH JOURNAL
TARJ
2023

تحصيل
د لغمان پوهنتون علمي، څېړنيزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړۍ گڼه، تله (میزان)

# د اسلامي اداري مهم عناصر

پوهنمل خطاب الله خطاب، اسلامي ثقافت شرعياتو پوهنځی لغمان پوهنتون، افغانستان

**لنډيز**

اداره په بشري ټولنه کې خورا اهميت او ارزښت لرونکې ده ، چې له اداري پرته د بشريت لارښونه او انسجام ستونزمن دی همدا ده، چې بشري ټولنې له بېلابېلو لارو چارو څخه په ګته اخستنې بشريت اداره کړی دی.

اداره په لغت کې لازمي کولو، پلان جوړولو او په يوه شي کې د کوښښ کولو په معنا راځي ،اوپه اصطلاح کې:

اداره د هغه ټولو کړنو څخه جوړېږي ، چې هدف ورڅخه دعامه سياست عملي کول وي. او يا: اداره په کم وخت، په کم لګښت او په لوړه سطحه د حکومتي دندو ترسره کولو ته وايي. اسلامي اداره : د شريعت په چوکات کې د اسلامي دولت اهدافو ترلاسه کولو لپاره د بشري ځواك اداره او منظم کولو ته وايي.د اسلامي اداري مهم عناصر څلور دي: تخطيط، تنظيم، توجيه او الرقابة. پلان: د هغه څه څخه عبارت دی ، چې د اوس وخت او راتلونکي ترمنځ د پل حيثيت لري، ددي عام تعريف له امله مونږ وپلی شو ،چې په اسلام کې پلان ددې څخه عبارت دی ، چې حاضر وخت کې د هغه څه په اړه تياری ونيسي ، چې راتلونکي ژوند يا هم چارو کې ور سره مخ کيږي. تنظيم: د کارونو وېشل دي په کاريګرو باندی،په دې سره کارونه ترتيب کيږي او هر شخص خپل مسؤليت او صلاحيت پيژني.توجيه: د مدير هغه هنر او ځواك څخه عبارت ده ،چې په واسطه يې د خپلو مامورينو سره درسته رويه،د مامورينو لارښوونه د مينيې او دوستی په فضا کې  وشي او ستونزې يې ختمې شي،کارونه په ښه بڼه تر سره شي آن تر دې ، چې مطلوب هدف ترلاسه شي. څارنه: ددې څخه ځان ډاډمن کولو ته وايي ، چې په اداره کې چارې د پلان ،تنظيم او ټاكلې توجيه مطابق د ټاکلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه سمې رواني او عملي دي. د اسلامي دولت مشرانو ته ضروري ده ، چې په اسلامي اداره کې ددې عناصرو تطبيق او څارنه وکړي څو يوه کاميابه اداره ولرو.

**کليدي ټکي:** اداره، عناصر،پلان ، تنظيم ، توجيه ، څارنه.

## ۱. پېژندنه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على رسول الله مؤسس الدولة والإدارة وعلى آله وصحبه ومن سار بمساره إلى يوم القيامة اما بعد :

الله تعالى انسان ټولنيز او اجتماعي مخلوق پيدا کړی،چې يوازې ژوند کول ورته سخت او ستونزمن دي اما ټولنيز ژوند هم يو شمېر اصولو او قوانينو ته اړتيا لري ، چې بايد ټول اړخونه ورته په احترام قايل وي ؛ همدا د اداري نظام څخه عبارت دی او اداره ديو شمېر مهمو عناصرو لرونکې ده، په مختلفو وختونو کې الله تعالى د انسانانو د هدايت او لارښونې لپاره انبياءکرم را ليږلي څو انسانان اداره کړي او د الله تعالى طرف ته يې لارښونه وکړي اودغه ټولو انبياو په خپله اداره کې دغه عناصر تطبيق کړي دي.

د موضوع پېژندنه: په دغه څېړنه کې مې د اسلامي ادارې تعريف او همدارنګه د اسلامي ادارې مهم عناصر څېړلي دي څو لوستونکي اسلامي اداره وپېژني او د عناصرو څخه يې اګاه شي.

د موضوع ارزښت : موضوع خورا اهميت او ارزښت لرونکې ده ځکه مونږ په داسې عصر کې ژوند کوو ، چې اکثره اسلامي نړۍ د غرب څخه متأثره ده هر هغه څه ، چې په غرب کې دود وي دلته يې خلک هم کاپي کوي ؛نو اکثره ځوان قشر د غرب اداري نظام څخه اغېزمن شوي او د اسلامي اداري څخه نا خبره پاتي او که د اسلام اداري نظام يادونه ورته کوې تعجب کې پاتې کيږي؛نو په دې موضوع کې مې د اسلام اداري نظام مختصرا تعريف کړی او مهم عناصر مې هم ورته ذکر کړي دي.

د څېړنې فرضيې: آيا اسلام اداري نظام لري؟. څنګه کولی شو اسلامي اداره رامنځته کړو؟. د اسلامي اداري نظام ارزښتونه کوم دي؟

د څېړنې ستونزه:دا ، چې اسلامي اداره د ټول بشريت لپاره د ښې حکومتولۍ تضمين کوي اوپه ځانګړې ډول د اسلامي هېوادونو لپاره نو د اسلامي اداري مهم عناصر پېژندل اړين او ضروري دي ، چې متاسفانه په ياده موضوع کې زمونږ پښتنو ليکوالانو کافي او مستقله ليکنې نه وې کړې؛نو د عربي نړۍ ليکوالانو د ليکنو په تعقيب مې د الله تعالى په مرسته موضوع کې يو څه راټول کړل.

د څېړنې موخې:لوستونکي به په دې وتوانيږي چې:

۱ –اسلامي اداره وپيژني.

۲ –د اسلامي اداري په عناصرو  پوه شي.

۳ –د پلان،تنظيم،توجيه او څارنې په ارزښت  پوه شي.

## ۲. تېرو ليکنو ته کتنه

که څه هم په عين موضوع کې مستقله علمي ليکنه نه ده شوې اما په عربي نړۍ کې مختلفو علماو په اسلامي اداره کې ليکنې کړي ، چې متأسفانه زمونږ پښتانه ورڅخه استفاده نشي کولی، په پښتنو ليکوالانو کې لومړی شيخ عبدالباقي حقاني په اسلامي اداره کې پراخه ليکنه کړې بيا په وروستيو کې ، چې ياد مضمون اسلامي ثقافت

کې شامل شو :نو مختلفو لیکوالانو په کې لیکنې وکړې ، چې د همتونو د کمزورۍ په وجه د یادو کتابونو مطالعه ځوانانو ته سخته وه نو ومې غوښتل ، چې د اسلامي اداري مهم عناصر په مختصره توګه وڅېړم .

### ۲،۱. د کار توکي او کړنلاره

ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې هم کړې ده، په دویم قدم کې مې نبوي احادیثو ته مراجعه کړې او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه هم کړې، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د اسلامي اداري معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی نظريات راوړي او د اړتیا په صورت کې مې راجح قول هم په نښه کړی، د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني ده او مقاله کې مې د پښتو لیک دود ټول معیارونه تر خپلې وسعې مراعت کړي دي.

### ۲،۲. د اداري لغوي معنا

که څه هم د اداري په همدې لفظ سره په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې یادونه نه ده شوې اما ددې مصدر د مشتقاتو ذکر په قرآن کریم او د فقهاو په اقوالو کې شوې، لکه په قرآن کریم کې ددې لفظ فعل مضارع صیغه استعمال شوې الله تعالی فرمایي: { إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ} {البقرة:۲۸۲ آيت}.

ژباړه : مګر که وي (دا معامله) ستاسې تجارت په حضور (لاس په لاس) ، چې چلوئ يې تاسې په خپلو منځو کې.

په بل ځای کې هم الله تعالی فرمايي:{ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ }. {الأحزاب:۱۹آيت}.

ژباړه: نو ګورې به يې ، چې تاته په داسې شان د سترګو کاتې اړوي را اړوي.

یادونه: په دواړو اياتونو کې د ادارة مصدر مشتقات ، چې تدیرونها او تدور دي معنی يې لاس په لاس او اړول را اړول دي؛نود چارو تنظیم ته څکه اداره ویل کیږي ، چې هلته هم چارې او کارونه لاس په لاس کیږي.

اما د لغت کتابونو د ادارة مصدر د مشتقاتو لپاره مختلف تعریفونه ذکر کړي لکه ابن منظور په خپل کتاب لسان العرب کې وايي:

اداره په لغت کې لازمي کولو ته وايي، عرب وايي ( ادرت فلانا على الامر) په فلاني مې يو کار کول لازمي کړل (وادرته عن الامر) او د يو کار پرېښودل مې پرې لازمي کړل يعني ، چې کله په يو شخص د يو کار کول يا پرېښودل لازم کړل شي. (ابن منظور،1414 هـ.ج ۴ص ۲۹۹)

همدارنګه د پلان جوړولو او په يوه شي کې د کوښښ کولو په معنا هم راځي لکه علامه دوزي رحمه الله وايي: (أدار السياسة: دبّر أمور الرعية وساسه) يعني چارې د پلان مطابق سمبال کړې او د رعيت په اصلاح کې

يې کوښښ وکړ، همدارنګه اداره په يو کار کې د کوښښ کولو په معنا هم راځي. (دُوزِي ، 1979 – 2000 م . ج ۴ ص ۴۳۴)

يادونه: مذکوره تعريفونو څخه مونږ ته د ادارې څو لغوي معناګانې په لاس راځي:

۱ـ پر يو شخص د يو کارکول لازمي کېدل په اداره کې هم د لوړ پوړو چارواکو لخوا په ما تحت مامورينو د چارو ترسره کول لازمي کيږي.

۲ـ د يو کار لپاره پلان جوړول او په هغه کې کوښښ کول په اداره کې هم همداسې وي ، چې همېشه د ټولو کارونو لپاره پلانونه جوړيږي او د ښه ترسره کولو لپاره يې کوښښ کيږي.

**۲،۳. د ادارې اصطلاحي معنا**

دا ، چې اداره معاصره اصطلاح ده نو اسلامي علماو او غير مسلمو اداري پوهانو د ادارې لپاره ګڼ شمېر اصطلاحي تعريفونه کړي، چې لاندې ځينې تعريفونه ذکر کوم:

الف–: د ادارې اصطلاحي تعريف د اسلامي پوهانو له نظره:

۱ـ اداره د هغه ټولو کړنو څخه جوړيږي ، چې هدف ورڅخه دعامه سياست عملي کول وي. (الطماوي ، ۱۹۶۵م ۲۱).

۲ـ ځينو د ادارې اصطلاحي تعريف داسې کړی: اداره په کم وخت، په کم لګښت او په لوړه سطحه د حکومتي دندو ترسره کولو ته وايي.

۳ـ ځينو علماو د ادارې لپاره داسې جامع تعريف کړی ، چې مخکنيو ټولو تعريفونو ته شامليږي هغوی وېلي دي: اداره د لوړو مقاماتو لخوا د ټاکلو اهدافو ترلاسه کولو لپاره د بشري او مادي ځواک منظم کولو ته وايي. (حقاني، ۱۴۳۹ ه ق .ج ۲ ص ۲. )

ب ـ : د ادارې تعريف د غير مسلمو پوهانو له نظره:

۱ /د ادارې د علم نامتو پوهLuther Gulik اداره داسې تعريف کړې: اداره هغه علم او هنردی، ، چې يو زيات شمېر خلک خپلې لاربښوونې او کنترول لاندې راولي او هغوی ټول د يو ګډ هدف او مقصد په لوري په ډله ييزه توګه سوق کوي. (دوديال، ۱۳۸۸ ل. ۴).

د اسلام اداري نظام تعريف: دوکتور فوزي کمال د اسلامي اداري نظام تعريف په لاندې ډول کړی:

(الإدارة العامة في الإسلام: هى التنظيم و ادارة القوى البشرية لتحقيق الأهداف الدولة الإسلامية في إطار الأحكام الشرع). (أدهم ۱۴۲۱ هـ ق. ۲۴).

ژباړه: په اسلام کې عامه اداره: د شريعت په چوکات کې د اسلامي دولت اهدافو ترلاسه کولو لپاره د بشري ځواک اداره او منظم کولو ته وايي.

**۲،۳. د اسلامي ادارې مهم عناصر**

پدې اړه عبدالرحمن الضحيان وايي:(معظم الرواد الإدارة والباحثين يجمعون على أن العمليات لإدارية تتكون من اربع و هي ١ـ: التخطيط ٢ ـ: التنظيم ٣ ـ: التوجيه ۴ ـ: الرقابة. و أن هذه العمليات متشابكة و متداخلة فى بعضها.بل كل عملية تضم العمليات الاخرى،فالمدير وهو يخطط او يضع الخطة لعمله فانه ينظم و يواجه و يراقب. و بالمثل في عملية التنظيم والتوجيه والرقابة. (الضحيان، (ب–ت) ۶۵).

ژباړه: ستر ستر اداره چیان او څېړونکي په دې متفق دي،چې اداري کړنې د څلورو شیانو څخه جوړیږي:

١ ـ: پلان جوړونه ٢ ـ: نظم او ترتیب ٣ ـ: توجیه ۴ ـ: څارنه او دغه کړنې یو بل سره نښتې او یو بل کې داخل دي بلکې یوه عملیه او کړنه د بل سره یوځای کیږي، مدیر پلان ګذاري کوي یا هم د خپل کار لپاره پلان جوړوي؛نو پلان کې د هغه تنظیم توجیه او څارنه ټول شامليږي همدارنګه په تنظیم، توجیه او څارنه کې ټولې کړنې یو بل سره ضم او پیوست کیږي.

اوس داچې اداره د څلور شیانو څخه جوړه ده ، چې تخطیط،تنظیم،توجیه او الرقابة دي اړینه ده ، چې دا څلور واړه مختصرا تعریف کړو:

### ۲،۴. التخطیط Planning (پلان)

د یوې ادارې لپاره پلان ډیر ضروري او خورا ارزښت لرونکی دی ؛نو څکه پلان لپاره ګڼ شمېر تعریفونه شوي ، چې په لاندې ډول یې ذکر کول غواړم:

١ ـ: پلان جوړونه: د مربوطه ادارې، سازمان یا مؤسسې د اهدافو د ټاکلو او جوړولو څخه عبارت دی، ، چې د ټاکلې مودې په ترڅ کې دغو اهدافو ته د رسېدلو لارې چارې هم ښکاره کوي. پلان د هدف یا اهدافو ټاکل او هغو ته د رسېدلو د لارو د پیشبینی څخه عبارت ده ، دا د ادارې یو ډېر مهم عنصر دی هره اداره مکلفه ده ،چې ترهرڅه دمخه لومړی خپل اهداف مشخص او وټاکي او بیا ورسره نور ضروري شیان لکه د تشکیل جوړول ، د دفتر لوازم او نور په پام کې ونیسي په واقعیت کې پلان هدف ته د رسېدلو په خاطر ، د فعالیتونو د تر سره کولو په خاطر یوه ژمنه او تعهد دی.

په بله وینا: پلان جوړونه داسې یو تصمیم نیول دي ، ، چې څه باید اجرا شي یعنې پلان داسې یو تصور او طرح ده، ، چې مطلوب وضعیت پکې پیشبیني او د رسېدو لارې ورته اټکل کیږي.

یو بل پوه همدغه تعریف په لږ بدلون سره داسې کړی دی: پلان جوړونه د یو حالت او وضعیت یا موضوع د بدلون په خاطر د عملیاتو طرح کول دي، ، چې دیو اټکل شوي لارښود سند له مخې صورت نیسي. په لنډ ډول باید وویل شي، ، چې : پلان دیوې ټاکلې مودې په ترڅ کې د عاجلو او یا هم د ورځنیو لرې او اوږدې مودې اهدافو ته د رسېدلو په خاطر د تدابیرو هماهنګه او پرله پسې مجموعه ده، ، چې د دغو تدابیرو په پرله پسې عملي کولو سره پرمختیا او هدف ته رسیږو دغه مطلب په لاندې شکل کې ښودلای شو. (دودیال، ۱۳۸۸ ل. ۱۳۷).

د تخطیط یا پلان لپاره عبد الرحمن الضحیان په خپل کتاب کې داسې تعریف کړی(إنه الجسر بین الحاضر والمستقبل. و من هذا التعریف العام یمکن أن نقول أن التخطیط في الإسلام هو الإستعداد فی الحاضر لما یواجه الإنسان في عمله او حیاته في المستقبل) . (الضحیان، ب–ت. ۶۵).

ژباړه: پلان د هغه څه څخه عبارت دی ، چې د اوس وخت او راتلونکي ترمنځ د پل حېثیت لري، ددې عام تعریف له امله مونږ وېلی شو ،چې په اسلام کې پلان ددې څخه عبارت دی ، چې انسان حاضر وخت کې د هغه څه په اړه تیاری ونېسي ، چې راتلونکي ژوند یا هم چارو کې ور سره مخ کیږي.

**الف ـ: د تخطیط یا پلان جوړونې مشروعیت:** په اسلامي شریعت کې پلان جوړونه یو مشروع بلکې غوره او بهتر عمل دی ، چې مؤمن باید خپلې ټولې چارې د پلان له مخې تر سره کړي، په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ګڼ شمېر نصوص شته ، چې په دې دلالت کوي دلته د اختصار په موخه یو یو دلیل ورڅخه ذکر کوم:

۱ ـ: الله تعالی فرمايي:( {وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ } { الانفال:۶۰آیت}.

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زیات طاقت او تیار زین کړي اسونه،د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ،څو ، چې په دې وسیله د الله پر دښمنانو،پر خپلو دښمنانو هیبت راولئ.

په دې ایت کې الله تعالی د اسلامي اداري مسؤلین په دې مامور کړي ، چې د امت راتلونکي په اړه د قوت او چمتو والي لپاره  پلان و نیسي.

۲ـ: په نبوي احادیثو کې هم ډېر دلایل شته ، چې د پلان اهمیت یادونه پکې شوې له دې جملې څخه یو هم دا سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه حدیث دی ،چې د خپل پلار څخه روایت کوي هغه وایي زه مریض وم رسول الله صلی الله علیه وسلم مې پوښتنې ته راغی ما ورته وویل حالت مې ته ګورې ، چې ښه نه یم او زه ډېر مال لرم او یوازې یوه لور لرم ؛ غواړم ، چې د خپل مال ثلث صدقه کړم رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل ، چې ثلث ډېر دی بیا يې راته وویل :( إنک أن تذر ورثتک أغنیاء، خیر من أن تذرهم عالة يتكففون الناس) (البخاري، 1422هـ ج ۵ ص۱۷۸).

ژباړه: داچې خپله ورثه مالداره پرېږدې غوره ده له دې څخه ، چې اړمن او محتاج وي او د خلکو څخه سوال کوي.

په دې حدیث کې په ښکاره ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم ابي الوقاص رضي الله عنه ته د خپل اهل د راتلونکي په اړه پلان ور ښایي.

همدارنګه رسول الله صلی الله وسلم په خپله په عملي ډول د پلان جوړونې څخه استفاده کړې د بېلګې په ډول: د هجرت اړوند چارې ټولې د یو پلان مطابق وې،بیا مدینه منوره کې د دولت بنسټ ایښودل د پلان مطابق و

LU
TAHSIL ACADEMIC AND RESEARCH JOURNAL
TARJ
2023

تحصیل
د لغمان پوهنتون علمي، څېړنیزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړی ګڼه، تله (میزان)

همدارنګه ددغه دولت ټولې چارې پرمخ وړل دا ټول د پلان مطابق رسول الله صلی الله علیه وسلم ترسره کولې.

**۱: د تخطیط یا پلان جوړولو ګټې:**

۱ـ: پلان مونږ ډاډمن کوي ، ، چې څه باید وکړو او ولې یې ترسره کړو.

۲ ـ: د عامو خلکو ، نورو ادارو ، حمایه کوونکو او ډونرانو او نورو د استفادې لپاره د پلان په لیکل شوې بڼه جوړول او دکارونو تشریح.

۳ ـ: دچارو د کامیابۍ لپاره د پلان له مخې قضاوت کېدای شي.

۴ ـ: اهداف پکې ښودل کیږي، نو ځکه یې د پرمخ بیولو لپاره د یوه معیار په توګه ارزیابي کولای شو.

۵ ـ: همکاري رامنځته کوي او د وخت د ضایع کېدو څخه مخنیوی کوي.

۶ ـ: دکار مؤثریت زیاتوي او په لګښت کې دسپما سبب کیږي.

۷ ـ: د عامه مراجعو له خوا په فعالیتونو کې د مناسبې همکارۍ د جلبولو سبب ګرځي.

۸ ـ: د راتلونکي لپاره د پروګرام جوړولو په خاطر د اصلاحاتو د رامنځته کېدو سبب کیږي.

**۲: د پلان جوړونې اهداف:**

۱ ـ:د فعالیتونو د تنظیم په وسیله هدف ته د رسېدلو د احتمال لوړول.

۲ ـ:د فعالیتونو د ښه تنظیم په واسطه په لګښت ، وخت، انرژي او کار کې سپما راوستل.

۳ ـ:د اهدافو او مقاصدو په لاسته راوړلو تمرکز او اصلي مقصد ته ډېر ژر رسېدل او له مسیر یا لارې څخه د انحراف مخنیوی دکنترول د لارو چارو برابرول.

۴ ـ: د هماهنګۍ رامنځته کول.

۵ ـ: د پلان ترتطبیق وروسته د راپور د چمتوکولو په خاطر د یوه معیار موجودیت (دودیال، ۱۳۸۸ ل. ۱۳۸).

۲ ـ: **التنظیم:** د تنظیم لپاره عبدالرحمن الضحیان په خپل کتاب کې دوه تعریفونه کړي یو عام او بل علمي هغه لیکي:( یعرف التنظیم بأنه الترتیب و وضع الأشخاص والأشیاء فی الأماکن اللتي تصلح فیها للعمل والإنتاج، و هذا تعریف عام).

اما التعریف العلمي فهو:توزیع العمل إلی جزئیات(تقسیمه) ثم توزیع ذالک علی العاملین و بذالک ینتظم العمل و یعرف کل شخص مسؤلیته و صلاحیته). (الضحیان، ب–ت. ۹۵)

ژباړه: تنظیم ترتیب ته وایي همدارنګه د بشري او مادي قوې په داسې ځای کې ایښودلو ته وایي ، چې وړ یې وي او ښه پایله ورکونکې وي،دا عام تعریف دی.

علمي تعریف یې دادی: وېشل د کارونو دي جزئیاتو(برخو) ته؛ بیا ددغو برخو وېشل دي په کاریګرو باندې،په دې سره کارونه منظم کیږي او هر شخص خپل مسؤلیت او صلاحیت پېژني.

**۱: د تنظیم مشروعیت:** د پورته تعریفونو په بناء تنظیم یو مشروع عمل دی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله هم تر سره کړی دلته یواځې د هجرت واقعه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تنظیم ځخه یادونه کوو ، چې هغه څرنګه هر شخص په ځانګړې دنده وګماره: کله ، چې د الله تعالی له طرفه نبي علیه الصلوة والسلام ته د جبرئیل علیه السلام په توسط د هجرت حکم وشو،نبي علیه الصلوة والسلام د هجرت بې مثاله طریقه تنظیم کړه، نبي علیه الصلوة والسلام ته حکم وشو ، چې په دې شپه به پخپله بستره نه ویده کیږي، نبي علیه الصلوة والسلام حضرت علي رضي الله عنه ته پخپله بستره د ویده کېدو حکم وکړ، پس ددېنه ، چې نبي علیه الصلوة والسلام ده ته اطمنان ورکړ ، چې تاته به د کافرانو له طرفه هېڅ تکلیف نه رسیږي،بیا د ابوبکر صدیق رضي الله عنه کور ته ورغی،حضرت عائشة رضي الله عنها دا واقعه دارنګې بیانوي ، چې نبي علیه الصلوة والسلام ډېر وختي د ابو بکر رضي الله عنه کور ته راغئ ، چې په دې وخت کې د نبي علیه الصلوة والسلام راتګ معمول نه و،کله ، چې ابو بکر رضي الله عنه نبي علیه الصلوة والسلام ولید پوه شو ، چې یو نوی کار پیدا شوی ځکه خو نبي علیه الصلوة والسلام په دې وخت کې راغئ ، چې مخکې به نه راته نبي علیه الصلوة والسلام د ابوبکر رضي الله عنه نه غوښتنه وکړه ، چې یواځې شي ځکه ، چې د نبي علیه الصلوة والسلام به د ابوبکر رضي الله عنه سره رازونه و،بیا یې ورته وویل:

((إن الله قد اذن لي في الخروج والهجرة)) یعني الله تعالی ماته حکم کړی د وتلو او د هجرت،ابوبکر رضي الله عنه تري د ملګرتیا غوښتنه وکړه نبي علیه الصلوة والسلام دا غوښتنه ومنله او تنظیم او ترتیب د هجرت یې په لاندې ډول سره جوړ کړ:

۱ـ:عبد الله ابن اریقط یې په اجاره ونیو ، چې دواړو ته لاره وښایي.

۲ـ:عبد الله ابن ابوبکر ته یې وظیفه ورکړه ، چې په مکه کې به د ورځی پاتې کیږي ، چې د کافرانو خبرې واوري او جمع یې کړي او معلومات ورکړي:او دا عمل د اوسني وخت په اصطلاح کې استخباراتي عمل دی.

۳ـ:اسماء رضی الله عنها ته یې وظیفه ورکړه ، چې خوراک به برابروي او ماښام به یې غار ته وروړي.

۴ـ:عامر بن فهیره غلام یې مکلف کړ ، چې نوموړی به د ورځې ګډې څروي او ماښام به غار طرف ته ګډې راولي ، چې یو خو به دوی ته شوده ورکوي او بل به د عبدالله او اسماء رضی الله عنهما آثار د قدمونو په ګډو سره ختموي.

نبي علیه الصلوة والسلام او ابو بکر رضي الله عنه درې ورځې غار کې تېرې کړې او د تاریخي معجزاتو اظهار وشو .(حقاني، ۱۴۲۴ هـ ق. ۳۲۸).

یادونه: د هجرت په واقعه کې دا موږ ته ښه واضحه شوه ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت لپاره څومره ښه تنظیم وکړ،همدارنګه دندې یې څرنګه و وېشلې او هر شخص ته یې د هغه وړ دنده وسپارله؛نو همدې ته تنظیم وایي.

**۳ـ : التوجیه:** د التوجیه تعریف( هو فن وقدرة المدیر على السیر الصحیح بمن تحت أمره و هدایتهم و توجیههم مع إشاعة روح الود والحب ،والرضاء والتفاني،والإنتماء للعمل حتى یتحقق الهدف المطلوب تحقیقه) (الضحیان، ب–ت. ۱۱۹)

ژباړه: توجیه د مدیر هغه هنر او ځواک څخه عبارت ده ،چې په واسطه یې د خپلو، مامورینو سره درسته رویه،د مامورینو لارښونه د مینې او دوستۍ په فضا کې وشي او ستونزې یې ختمې شي،کارونه په ښه ښه تر سره شي آن تر دې ، چې مطلوب هدف ترلاسه شي.

او د توجیه عملیه په لاندې وسایلو سره تکمیلېږي:

۱ـ:د مدیر او ما تحت مامورینو ترمنځ په مستقیم وینا سره.

۲ ـ :د لیک او مکتوب په واسطه ، چې مدیر په کې لارښونه کړې وي ترڅو اداري سیستم پرې مخته لاړ شي.

۳ ـ :په عملي بڼه ، چې مدیر په خپله د عمل میدان ته راشي او په عملي او نظري ډول خپل مامورینو ته و ښايي.

**۱: د توجیه مشروعیت:** توجیه یو مشروع او روا عمل دی ، چې الله تعالی پرې امر کړی او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په خپل ژوند کې توجیه ښه تمثیل کړی،الله تعالی فرمایي: {ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} {النحل :۱۲۵آیت}.

ژباړه: (ای پیغمبره صلی الله علیه وسلم، د خپل رب د لارې په لورې په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه،او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه ، چې ډېره غوره وي.ستا پروردگار ډېر ښه پوهیږي ، چې څوک د هغه له لارې اوښتی دی او څوک پر سمه لاره برابر دی.

یادونه: په دې ایت کې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دعوت د توجیه لارښونه کوي،چې خلک په حکمت،نصیحت او په غوره توگه مباحثه کولو سره دعوت کړه ترڅو مطلوب هدف ، چې د دوی ایمان راوړل دي ترلاسه شي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند کې د همدې کړنلارې استفاده کوله لکه د بېلگې په ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:(صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ) (البیهقي، 1424 هـ.ج ۲، ص: ۴۸۷)

ژباړه: داسې لمونځ کوئ لکه زه یې ، چې کوم،چې کله د لمانځه وخت راغی یو تن دې ستاسې څخه اذان وکړي او تاسو کې ، چې څوک مشر وو هغه دې امامت وکړي.

یادونه: په حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د لمانځه،اذان او امامت په هکله لارښونه کوي، ، چې همدا د توجیه معنی او تمثیل دی.

**۴ـ: الرقابة:** د الرقابة یا څارنې تعریف علماو داسې کړی:( الرقابة هي التأكد والتحقق من أن تنفيذ الأهداف المطلوب تحقيقها فى العملية الإدارية تسير سيرا صحيحا حسب الخطة والتنظيم والتوجيه المرسوم لها كما تعرف الرقابة بالتفتيش او المراقبة على سير العمل). (الضحیان، ب–ت. ۱۱۹)

ژباړه: څارنه ددې څخه څان ډاډمن کولو ته وايي ، چې په اداره کې چارې د پلان ،تنظیم او ټاکلې توجیه مطابق د ټاکلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه سمې رواني او عملي دي.

لکه څرنگه ، چې د څارنې تعریف داسې هم شوی: د چارو د جریان پلټنه او څارنه.

**۱ ـ: د الرقابة او څارنې مشروعیت:** په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ډېر زیات د لائل په مشروعیت د څارنې کې شته ، چې دلته ورڅخه مختصرا یادونه کوم:

الله تعالى فرمايي: {وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} {التوبة :۱۰۵آیت}.

ژباړه: ای پېغمبره دوی ته ووایه :تاسې عمل کوئ! الله ،د هغه پېغمبر او مؤمنان ټول به و گوري ، چې ستاسې کړه وړه اوس څه دي.بیا به تاسې د هغه ذات لوري ته ور وگرځول شئ،چې په پټو او ښکاره ۇ هرڅه باندې پوهیږي او هغه به تاسې ته در وښايي ، چې تاسې څه کول.

یادونه: په ایت کې مؤمنانو ته ددې خبر ورکول دي ، چې دوی همیشه د الله تعالى تر مراقبت او څارنې لاندې دي؛نو باید همېشه نیک او صالحه اعمال ترسره کړي ترڅو د قیامت پر ورځ د الله تعالى او د ټول مخلوق پر وړاندې د شرمندگۍ سره مخ نشي.

د څارنې او رقابت یادونه هم په ډېرو احادیثو کې شوې د بېلگې په ډول په حدیث جبریل کې ، چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه د احسان په اړه پوښتنه کیږي رسول الله صلى الله علیه وسلم ورته و فرمايي:( أن تعبد الله كأنك تراه، فإنك إن لا تراه فإنه يراك) (القشيري ب – ت. ج ۱ ص ۳۹).

ژباړه: احسان دیته وايي ، چې ته د الله تعالى عبادت په داسې توگه وکړې لکه ، چې الله تعالى وینې،که ته یې نه وینې الله تعالى خو دې وینې.

**د مسؤلینو څارنه او حدود یې**:څارنه یا نظارت په ادار] سیستم کې د اداري رهبری له اهمو او اساسي وظائفو څخه شمیرل کیږي. څکه ، چې له همدې لارې د اداري رهبري کولای شي خپل ټاکلي اهداف لاس ته راوړي او هم د خپل اداري فعالیت، اهلیت، او د بشري،مادي ممکنه وسایلو په کارولو سره دا معلومه کړي، ، چې د خپلو ټاکلو  اهدافو تحقق لپاره څومره یووالی موجود دی،همدارنگه د څارنې او رقابت په وجه اداره د فساد څخه ساتل کیږي ، چې څومره څارنه او نظارت قوي وي همدومره اداره پیاوړی او مضبوطه وي.

دغه څارنه کله د اداري داخل څخه سرچینه اخلي اوکله بیا د واکمني مرجع لخوا صورت نیسي. په اسلام کې څارنه دا یو فردي مسؤلیت دی،څکه چې؛ اسلام هر اداري کارکوونکي ته دامانتداری حکم کړی. دولتي دنده

يو امانت دی او امانت يو مسلمان ديته مجبوره وي ،چې په خپل كار كې د الله تعالی څخه وويريږي. مخکې تردې ،چې بل څوك ورسره محاسبه وکړي، بايد له خپل ځان سره لومړی په خپله محاسبه وکړي. په خپلو كارونو كې د الله تعالی او د رسو لله صلی الله عليه وسلم احكامو تابعداري وكړي .

اسلام د څارنې لپاره كوم داسې اصول او قواعد په تفصيل سره ندي وضع كړي. او نه يې هم داسې كومه طريقه ښودلې، بلكې دغه كار يې د اسلامی ټولنې مختلفو ټولنيزو حالاتو، اداري ظروفو ته پرېښې دي، ، چې د وخت مسؤلين يې بايد د تجربو او حالاتو ته په كتو څنگه ، چې لازم گڼې تصميم ونيسي، رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د خپلو عمالو څارنه كړې لكه حديث كې راځي :

(عن أبي حميد الساعدي: أن النبي صلى الله عليه وسلم استعمل ابن الأتبية على صدقات بني سليم، فلما جاء إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، وحاسبه قال: هذا الذي لكم، وهذه هدية أهديت لي، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فهلا جلست في بيت أبيك، وبيت أمك حتى تأتيك هديتك إن كنت صادقا). (البخاري،1422هـ . ج ۹ ص۷۶)

ژباړه: د ابي حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی:چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بني سليم قبيلې د صدقاتو عامل ابن الاتبية رضي الله عنه و ټاكه،چې كله رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی،رسول الله صلی الله عليه وسلم ور سره حساب شروع كړ،هغه وويل: دا ستا مال دی او دا ماته خلكو ډالی راكړي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: كه ته رښتونی يې ؛نو بيا ولی د مور او پلار په كور كې نه كېناستې ، چې تا ته ستا ډالی راغلي وې.

ابن حجر رحمه الله په فتح الباري كې د اشهب وينا را نقل كړې هغه وايي: (عَنْ أَشْهَبَ أَنَّهُ يَنْبَغِي لِلْحَاكِمِ أَنْ يَتَّخِذَ مَنْ يَسْتَكْشِفُ لَهُ أَحْوَالَ النَّاسِ فِي السِّرِّ وَلْيَكُنْ ثِقَةً مَأْمُونًا فَطِنًا عَاقِلًا) (ابن حجر، 1379. ج۱۳ ص ۱۹۰)

ژباړه: د وخت حاكم ته لازمه ده ، چې څيرك،هوښيار،امانتدار او باوري خلك د ځان لپاره ونيسي،ترڅو په پټه د خلكو احوال حاكم ته معلوم كړي.

د څارنې يا الرقابة تعريف او مشروعيت مخكې د دولت رئيس په اداري مسؤليتونو كې تېر شو دلته پرې بحث نه كوو دلته يواځې د څارنې او الرقابة ډولونه ذكر كول غواړم:

**د څارنې ډولونه:** استاد دوكتور عبدالرحمن الضحيان په خپل كتاب كې د څارنې درې ډولونه ذكركړي هغه وايي:(و فيما يلي انواع الرقابة من المنظور الاسلامي:

ژباړه: د اسلامي شريعت له نظره د څارنې ډولونه په لاندې توګه دي:

۱ –الرقابة الذاتية:و هي رقابة الموظف على نفسه بنفسه خوفا من الله تعالى مستشعرا رقابة الله عليه في قوله تعالى: {مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ } {ق:۱۸آيت }.

۱ـ: ذاتي څارنه: دا د يو مؤظف او مامور لخوا د خپل ځان څارنې څخه عبارت ده،چې د الله تعالی له وېرې او په دې پوه وي ، چې دا د الله تعالی تر څارنې لاندې دی د الله تعالى ددې قول په مصداق:هېڅ داسې لفظ د هغه له خولې څخه نه راوزي ، چې د هغه د محفوظ ساتلو لپاره يو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.

۲ ـ:الرقابة الداخلية: و هي رقابة المدير على من عنده من الموظفين، و تعني شخوص المدير الى العاملين و العمل للمتابعة و معرفة ما يجري وعدم الوقوع فى الاخطاء اى تفادى الاخطاء قبل وقوعهاحتى لا تكلف الادارة الخسائر.

۲ـ: داخلي څارنه: دا د مدير لخوا د خپلو مامورينو څارنې ته وايي،هدف ورڅخه کتل د مدير دي د کار،کاريگرو او ددې معلومول ، چې کار په سمه توگه روان دی او خطاء کې نه دي واقع،يعني د خطاء د پېښېدو څخه وړاندې د هغه څخه ځان ساتنه تر دې ، چې اداره د زيانونو په پرېکولو مکلفه نشي.

۳ ـ: الرقابة الخارجية: تقوم بها اجهزة خاصة تؤسسها الحكومة لمتابعة اجهزة الدولة لتطمئن على مسيرتها حسب النظم،مثل ديوان المظالم ،و هيئة الرقابة و التحقيق للرقابة الادارية،و ديوان المراقبة العامة للرقابة المالية والمباحث الادارية للرقابة على عدم التفشي الفساد الاداري.) (الضحيان، ب–ت. ۱۱۵).

۳ ـ: خارجي څارنه: دا څارنه د حکومت لخوا د ځانگړو سستمونو په واسطه ترسره کيږي ترڅو ډاډ حاصل شي ، چې اداره د نظام په بنا مخته ځي،د بېلگې په ډول د ظلمونو د څېړنو ديوان،د اداري د څارنې او څېړنې کمېټه،د مالي چارو د عام څېړنې او څارنې ديوان او د اداري فساد مخنيوي لپاره د څارنې څېړنه.

يادونه: ددې څخه معلومه شوه ، چې څارنه په درې ډوله ده اول: ذاتي يا هم ځاني څارنه ، چې ديته ايماني او وجداني څارنه هم وايي ، چې د يو مسلمان ايمان ددې باعث کيږي ، چې دا بايد خيانت،غدر او دوکه و نکړي. دويم: داخلي څارنه:چې د مربوطه مدير لخوا د خپلو مامورينو څارنه وشي. دريم: ، چې د دولت لخوا په مختلفو سيستمونو سره د اړوندو چارو څارنه وشي.

**د څارنې اداب او کړنلاره:** محمد ابن الشريف الشاکر د څارنې درې شکلونه او کړنلاره ذکر کړې هغه ليکي:

ا ـ: إستقدام بعض الرعية و سؤالهم عن أحوالهم و ولاتهم : کتب عمر رضي الله عنه إلى عامله بالعراق: أن ابعث إلي برجلين جليدين نبيلين أسألهما عن العراق و أهله،فبعث إليه بلبيد بن ربيعة و عدي بن حاتم.

الف ـ: ژباړه: د ځينې ولسي خلکو را غوښتنه د حالاتو او د واليانو په اړه ترې پوښتنې کول: عمر رضی الله عنه په عراق کې خپل عامل ته ليک واستوه: ، چې دوه پياوړي او هوښيار سړي را ته را وليږه،چې د عراق او اوسېدونکو په هکله ورڅخه پوښتنه کوم،هغه ورته لبيد بن ربيعة او عدي بن حاتم وليږل.

ب ـ: الزيارات التفتيشية او التفقدية وهى إما نتيجة شكوى او إستعداء من الرعية،او تكون زيارة مبتدأة لأجل إكتشاف ما عساه أن يكون مخفيا.

ب ـ: د څېړنې او څارنې لپاره سفرونه کول: ، چې دا د ولس په غوښتنه يا هم شکايت په بنا کيږي،يا هم دداسې امورو د معلومو لپاره سفرونه کيږي،چې ممکن پټ ووسي.

ج ـ: إستقبال الرعية و سؤالهم عن واليهم و أحوالهم.) . (الشريف، ۱۴۳۴هـ . ۹۰.)
ج: د ولس استقبال کول او د والي او حالاتو په اړه ورڅخه پوښتنې کول.
يادونه: دا د څارنې کړنلاره او شکلونه و ، چې علماو ذکر کړي،په اوسني وخت کې هم په همدغه ډول د چارواکو څارنه کيږي.

**۳. پایله**

ددې څېړنې په پای کې لاندې نتائج په لاس راځي:
۱ـ اداره او بشريت سره لازم غېر منفک دي په دې معنی ، چې بشريت سره اداره يو ځای پيل شوې ده هېڅ بشر پرته د ادارې ژوند نه دی کړی که څه هم د ادارې کړنلاره يې متفاوته دي.
۲ـ د بشريت په لارښونه کې انبياو عليهم السلام د ادارې څخه ګټه اخستې ده همدا انبياو عليهم السلام منظمې ادارې لرلې.
۳ـ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل رياست کې يوه پر مختللې او منظمه اداره لرله ، چې د سيمې يهودو،نصارا او عامو واکمنانو سره يې د همدې ادارې په چوکاټ کې تعامل کوه.
۴ـ د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته راشده خلفاو د رسول الله صلى الله عليه وسلم اداره په بشپړه توګه يې وساتله او ترڅنګ يې نوي اداري نوښتونه وکړل.
۵ـ په مجموع کې اسلام يوه غښتلى اداري نظام لري،چې مضبوطو اصولو او بنسټونو څخه سرچينه اخلي او د بشريت د سوکاله ژوند تضمين کوي

**۴. وړانديزونه**

د افغانستان اسلامي امارت ته مې وړانديز دی څو په خپله اداره کې د اسلامي اداري عناصرپه بشپړډول عملي کړي،چې له يوې خوا به مو اداره غښتلې وي او بل به مو نړۍ ته د اسلامي اداري نمونه ښودلې وي.
داچې زمونږه ټولنه کې اکثره ځوانان د اسلامي اداري څخه نا خبره دي؛نو لوړو زده کړو محترم وزارت ته مې وړانديز دی ، چې ياد عنوان لاندې يو مضمون د شرعياتو پوهنځي په نصاب کې هم ځای پر ځای کړي.
معارف محترم وزارت ته مې وړانديز دی ، چې د اسلام اداري نظام مفردات د ښونځيو په نصاب کې شامل کړي.
د علومو اکاډمۍ محترمو علمي کادر غړو، استادانو او ليکوالانو ته مې وړانديز دی ترڅو ياده موضوع په خپلو څېړنو او ليکنو سره ښه غني کړي.

داچې علماء کرام په ټولنه کې تر هر چا زیات مسئولیت لري ؛نو محترمو علماو ته مې وړاندیز دی ، چې د ممبر د لارې څوانانو او عام ولس ته د اسلام اداري نظام روښانه کړي ترڅو ولس د نورو نظامونو څخه متأثره نشي.

## اخځلیکونه

القرآن الكريم
ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي. فتح الباري شرح صحيح البخاري. الناشر: دار المعرفة - بيروت، 1379
ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى. لسان العرب. الناشر: دار صادر – بيروت، 1414 هـ .
أدهم ، فوزي كمال.الإدارة الإسلامية.الناشر:دارالنفائس بيروت لبنان، ۱۴۲۱ هـ ق.
البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي. صحيح البخاري. المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)، 1422هـ .
البيهقي ،أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني أبو بكر .السنن الكبرى للبيهقي. المحقق: محمد عبد القادر عطا الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات، 1424 هـ - 2003 م.
حقاني، ابو عبدالرحمن عبد الباقي . مختصر السياسة والادارة في الاسلام. ناشر: المكتبة الحقانية لعلوم السياسة الشرعية ، ۱۴۳۹ –۲۰۱۷.
حقاني، فقيرعبد الباقي.السياسة والادارة الشرعية فی ضوءارشادات خيرالبرية.ناشر:المكتبة الحقانية لعلوم السياسة الشرعية،۱۴۲۴ هـ ق.
دوديال، محمد بشير.اداره.ګودر خپرندويه ټولنه،جلالکوټ، ۱۳۸۸ ل.
دُوزِي ، رينهارت بيتر آن . تكملة المعاجم العربية. الناشر: وزارة الثقافة والإعلام، الجمهورية العراقية ، 1979 - 2000 م.
الضحيان، عبدالرحمن بن ابراهيم. الادارة والحكم في الاسلام. الناشر:المملكة العربية السودية، (ب–ت).
الطماوي ، سليمان محمد. مبادى علم الادارة العامة. الناشر: بيروت،دارالفكر العربي، ۱۹۶۵م.
القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري .صحيح مسلم. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، (ب – ت).